SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږی

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرکزی نشراتی ارگان

دریم کال اته لسمه گڼه پرله پسي (۱۱۸) یکشنبه د ۱۴۱۸هق کال د ذوالحجة الحرام (۱)

۱۳۷۷ هـ ش کال د وري دمیاشتي (۹) د ۱۹۹۸ میلادي کال مارچ (۲۹)

در ولایت بغلان مناطق وسیع از لوث ملیشه ها پاکسازي گردید

کنترول راه هاي اکمالاتي پلخمري - مزار شریف و کندز به دست مجاهدین اردوي اسلامي قرار گرفت

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد :

در نتیجه عملیات تصفیوي که از طرف مجاهدین اردوي اسلامي تحت قوماندهٔ محترم قوماندان بشیر خان و محترم قوماندان سید الرحمن و عبدالجبار خان در آن منطقه صورت گرفت فرقه بیست بغلان ، قرای پلچك غوربندي، پوزه ایشان، عمر خیل، بالاذري مکتب، خلازائي ، لالکي و بابا نظر به دست مجاهدین اردوي اسلامي افتیده و از وجود ملیشه ها پاکسازي گردید. خبر مي افزاید که در نتیجه این عملیات کنترول راه هاي اکمالاتي پلخمري - مزار شریف و کندز به دست مجاهدین اردوي اسلامي قرار گرفت همچنان چار میل دافع هوا ، سه چین تانك، یك عراده موتر والگاه، ده میل راکت ، چار عراده موتر کاماز، یك عراده لند کروزر، پنجاه میل کلاشینکوف، هفت میل گرینوف به غنیمت مجاهدین در آمده است در جریان این عملیات موفقانه چهل تن از افراد دشمن اسیر و تعدادي از ملیشه ها به هلاکت رسیده و عده یي زخمي گردیده و اجساد ۲۵ تن از آنها در میدان جنگ باقي مانده است .

مجاهدین اردوي اسلامي به همکاري اهالي متدین آنجا به استقامت شهر پلخمري شجاعانه پیشروي دارند.

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .

(سورة المائدة)

نظامي مسوولینو ته د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام

د جهاد د لومړیو کرښو مجاهدینو، طالبانو او مسوولینو!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته :

تاسي چې د جهاد په لومړیو کرښو کي خپله مهمه اسلامي دنده تر سره کوئ باید اسلامي اصول په پام کي ولري هغه کسان چي د جګړي په ډګر کي اسیران او یا ټپیان کیږي د هغوی سره په اسلامي اخلاقو او سلوك سره چال چلند وکړي هېڅوك نشي کولي چي یو جنګي اسیر ووژني تر هغه وخته پوري چي د اسیر له خوا ده ته د مرگ خطر متوجه نه وي هر هغه څوک [...] ځلورم مخ

پیام عالیقدر امیر المؤمنین به مسؤولین نظامي

مجاهدین، طالبان و مسوولین خطوط مقدم جهاد

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

شما که وظیفه مهم اسلامي تان را در خطوط مقدم جهاد انجام میدهید باید اصول اسلامي را در نظر داشته باشید ، آنعده از افرادیکه در صحنه جنگ اسیر و یا زخمي میگردند با آنان با سلوك و اخلاق اسلامي برخورد نمائید هیچکس نمیتواند یك اسیر جنگي را بقتل برساند تا وقتیکه خطر مرگ از جانب اسیر متوجه اش نباشد. هر کسیکه اسیر و زخمي را بقتل برساند در محکمه ځلورم مخ

د بهرنیو چارو د وزارت اداري معین محترم مولوي سید محمد "حقاني" له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

د اسلامي امارت د مخالفینو په لست کي د خاد کسان او د سنگر قوماندانان هم شامل وو

پاکستاني مقاماتو له مونږ سره ژمنه کړې ده چي د افغاني سوداگرو مالونه به ازاد او پري لګول شوي دیمرج به معاف کړي

هغه افغانان به چي په وړو جرمونو په پاکستان کي بندیان دي ازاد کړلي شي

د شمال اتحاد به ډیر ژر د شګو د کمر په څیر ونړیږي

درنو لوستونکو! تاسي خبریاست چي د سرپرستي شوري د رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني په مشري د افغانستان د اسلامي امارت یو لوړپوړی هیئت د پاکستان د اسلامي جمهوریت په رسمي بلنه پاکستان ته سفر کړي وو مونږ ددي هیئت له یو تن غړي او د بهرنیو چارو د وزارت له اداري معین محترم مولوي سید محمد «حقاني» سره ددي سفر د اهګ ي او پایلي په هکله مرکه کړېده چي لوستلو ته یي ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه : محترم حقاني صاحب! پاکستان ته ستاسو سفر د څه په غوښتنه تر سره شو ؟

ځواب : زمونږ دا سفر چي د سرپرستي شوري د رئیس محترم الحاج ملا

ځلورم مخ

زد و خورد هاي خونین بین ملیشه هاي دوستم و تفنگداران جمعیت و وحدت در مزار شریف بوقوع پیوست

جنگ هاي شدیدي بعد از ظهر روز ۲۸ ذي القعده بین ملیشه هاي دوستم و افراد جمعیت و وحدت در شهر مزار شریف در گرفت. راپور هاي رسیده به آژانس اطلاعاتي باختر حاکیست مقارن ساعت سه بعد از ظهر ۲۸ ذي القعده در گیري هاي شدید بین افراد جمعیت به قوماندانی عطا محمد و علم سیاه ، ملیشه هاي وحدت و ملیشه هاي دوستم در شهر مزار شریف و عمدتاً در منطقه قلعه جنگي بوقوع پیوسته که طرفین درگیر از انواع سلاح هاي ثقیل و خفیف علیه یکدیگر کار گرفته و تعداد زیادي از افراد یکدیگر را به هلاکت رسانیده اند.

گفته میشود که ملیشه هاي دوستمي طي همین جنگها تعدادي از پوسته هاي جمعیت و وحدت را به اشغال خود در آورده است.

در گزارش ها اضافه شده است که محلات مسکوني شهر مزار شریف از آسیب این درگیري ها در امان نمانده و مرمي هاي سلاح ثقیل در مرکز شهر و منازل مسکوني فرود آمده است که تلفات اهالي ملکي را نیز در قبال داشته است .

درگیري هاي ملیشه هاي دوستم ، جمعیت و وحدت در مزار ص «٤»

په هند کي څلور سوه زره کوچنیان په جنسي کارو بار کي ککړ دي

د یونیسف د اداري راپور

نوي ډهلي تي پي اي

په نوي ډهلي کي دا وخت له څلور سوه زره څخه ډیر کوچنیان په جنسي بد اخلاقیو ککړ دي او دا شمیر ورځ په ورځ ډیرېږي .

په هند کي د نجونو او کوچنیانو پرمختګ اداري وایي چي د ډهلي په څېنو سیمو کي جنسي کارو بار ښه په درز روان دي .

په راپور کي ویل شویدي چي د شمالي ډهلي په جنا ، پشاور سیما پوري، د مرکزي ډهلي د نظام الدین په سیمه د مشرقي ډهلي په جهانګیر پوري د مغربي ډهلي په ځلورم مخ

د درملو د کنترول لابراتوار فعال شو

د عامي روغتیا د وزارت په چوکاټ کي د درملو د کنترول لابراتوار فعال شو . د عامي روغتیا د وزارت د متخنو روغتیایي زده کړو د انستیتیوت رئیس د شریعت اوونیزي خبریال ته وویل چي د عامي روغتیا د وزارت د هلو ځلو په نتیجه کي د درملو د کنترول او تحلیل او تجزیي عنصري او پرمختللي ماشینونه د اسلامي امارت له بودجي نه پیرل شوي او په کار بي پیل کړیدي.

ځلورم مخ

د برطانیي حکومت د طلاق د کمبت په هکله هڅي پیل کړیدي

لندن (اي اين اين) په برطانیه کي د طلاق د لوړ کچ د ښیوالي او د کورنۍ نظم د جوړولو او پرمختګ لپاره ددي هیواد د حکومت لخوا کړوړونه پونډه منظور شویدي او په سرکاري سطحه بي کار پیل کړیدي ددي کمپاین له مخي به له واده کوونکو دواړو خواو سره مالي مرسته کیږي چي په راتلونکي کي اقتصادي ستونزي د دوي د بیلتون لامل نه شي.

ځلورم مخ

په امریکایي ښوونځیو کي جرمونه د امریکایي ټولني لپاره لویه مسئله جوړه شویده

واشنګتن (اي کي اي)

په امریکایي ښوونځیو کي جرمونه د امریکایي ټولني لپاره یوه لویه مسئله جوړه شویده . په امریکا کي د یو سرکاري تحقیق له نتیجي نه معلومه شویده چي د هغه هیواد په اکثرو ښوونځیو کي وژنه، د ابرو تویونه، د وسلو ګرځول په ډیره پیمانه روانه ده په خبر کي ویل شویدي چي د امریکا په سلو کي لس ښوونځي د مسؤلینو له کنترول نه وتلي دي د امریکا په ښوونځیو کي د جرمو د ډیریښت اصلي لامل د امریکایي ټولني انحراف دي .

د امریکا د استخباراتو سپما ۲۶,۷ میلونه ډالره ده

واشنګټن (اي پي بي اب)

د روان میلادي کال په اوږدوکي د امریکا د استخباراتو دا داري سپما ۲۶ . ۷ ملیونه ډالرو ته رسېدلي ده د امریکا د استخباراتو د شبکي سي اي اي یو مدیر جارج ټینټ ویلي دي چي د دوي ځلورم مخ

په نړۍ کي هر کال دوه میلیونه ښځي خپل حمل غورځوي

ژنیو (اکي پي اي)

په نړۍ کي هر کال دوه میلیونه ښځي خپل ځان د مرګ خطر ته ورکوي او خپل حمل غورځوي . د کي پي اي د خبري آژانس د خبر له مخي په نړۍ کي هر کال د هغو دوه میلونو ښځو له جملي نه چي حمل غورځوي اتیا زره ښځي داجل خوله ته ورځي .

په خبر کي ویل شویدي چي د روغتیا پنځه نوي ادارو دا ویلي دي چي د پرمختګ په حال هیوادونو کي د ناقابله نرسانو او د نامناسبه طبي الاتو د استعمال له کبله د زرګونو ښځو روغتیایي حالت ته زیان رسیږي.

په خبر کي ویل شویدي چي د حمل د غورځولو له کبله د اکثرو مړو شویو ښځو تړاو له نیستمنو کورنیو سره دي ځکه چي دوي په دي اړه د غوره لارونه ناخبره دي.

د روغتیا د نړیوالي اداري مسؤول کلرابهور ویلي دي چي هر کال په نړۍ کي اوه نیم سوه میلیونه ښځي د هغوي له خوښي پرته په حمل مجبوریږي چي اکثره یې د جنسي ازادي او د بل د ځلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

فیصله یکطرفه و فرصت طلبانه ملل متحد

کشور ما در اثر دو دهه جهاد و جنگ تحمیلي همه امکانات مادي و معنوي خود را از دست داده و تمام نهاد ها و اساسات اقتصادي ، اداري و اجتماعي آن در نتیجه یك سازش و پلان منظم منطقوي و بین المللي تخریب گردیده است ، همه جانبه به کمك هاي مادي و معنوي بیروني ضرورت دارد، یگانه اداره، که کشور ما را در این راستا میتوانست که بدون ملحوظات سیاسي و ایدیالوژیکي کمك رساند ملل متحد بود و یقیناً فعالیت هاي سازمان ملل متحد در دوران جهاد و تجاوز اتحاد شوروي بر افغانستان مثبت و فعال ارزیابي شده و در اخراج قشون متجاوز شوروي از افغانستان نقش مهم و تعیین کننده داشت . بعد از اخراج قشون شوروي از افغانستان پالیسي و اراده سازمان متذکره دستخوش دگرگوني شده و به ارتباط قضیه افغانستان مطابق به امیال و اراده هاي قدرت هاي بزرگ عیار گردید .

طوریکه توقّع میرفت که ملل متحد در احیاي مجدد نهاد هاي اقتصادي، سیاسي ، کلتوري و اجتماعي کشور ما کما في السابق نقش مثبت ، فعال، بیطرف و مطابق به امیال و آرزو هاي دیني و ملي مردم ما ایفا نماید و در تأمین استقرار صلح و ثبات در افغانستان نقش مثبت خود را بازي کند که متأسفانه چنین نشده و اقدامات ملل متحد به ارتباط قضیه افغانستان متأثر از اهداف به خصوص نظریاتي، ایدیالوژیکي ، اقتصادي و سیاسي اول قدرت ها در رأس امریکا گردیده و حلال ص «۲»

د ترافیکو د ریاست خبرتیا

د کورنیو چارو د وزارت له هدایت سره سم د ترافیکو د ریاست لخوا یو شمیر موټر چي ډیر یي په بهرنیو سوسو پوري اړه لري او هیڅ ډول ترافیکي او قانوني اسناد نه لري درول شوي دي نو په دي وسیله ټولو بهرنیو موسسو او د دا ډول موټرو خاوندانو ته خبر ورکول کیږي چي په دوه اونیو کي دننه دننه خپلو وسایطو ته ترافیکي اسناد او نمبر پلیټ واخلي له دي پرته ورسره اصولي او قانوني چلند کیږي .

د کا،جي، بي یو تن لوړ رتبه کارکوونکي سي، آي، اي ته د جاسوسي په تور په دولس کاله بند محکوم شو

مسکو: د روسیي یوي نظامي محکمي د روسیي د نظامي استخباراتو د شبکي یو جګړن په دولس کاله بند محکوم کړیدي.

په خبر کي ویل شویدي چي جګړن ریګاردیدنګ تورن شویدي چي د روسیي د موشکونو په هکله یي سي آي اي ته معلومات راټول کړي دي په هغو موشکونو کي چي سي آي اي ته د هغو په هکله معلومات ورکړل شویدي او اي -۲۰، ار ایس ۲۲ ، ار ایس ۱۲ او ایم توپال شامل دي .

نوموړي جګړن یو کال مخکي نیول شوي دي او انترفاکس خبري آژانس وايي چي نوموړي صاحب منصب ددي کار په بدل کي پنځه سوه زره ډالره رشوت اخستي وو .

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کي : دطالبانونمایندګی تیلفون: ۸۱۵٦۲۷-۸۱۸۱۵۷-۸٤٤۳۳۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

مشکلات جاري کشور ما نشده و تشویش هاي عمیقي در راه فعالیت هاي مجهول ملل متحد براي مردم ما ایجاد گردیده است که باید ملل متحد در زمینه پالیسي واضح و هویدایي را که مطابق به اهداف دیني ، ملي و خواسته هاي عیني ملت ما باشد در پیش گرفته و به اراده دیني و ملي مردم ما احترام بگذارد .

اقدام اخیر نماینده سازمان ملل در اسلام اباد به ارتباط اخراج کارکنان آن اداره از جنوب غرب کشور در زماني صورت میگیرد که اخضر ابراهیمي نماینده خاص سرمنشي ملل متحد در منطقه مجدداً فعالیت هاي صلح را آغاز نموده است و این فعالیت ها ایجاب مینمود که نماینده سازمان ملل در اسلام اباد در همچون شرایط حساس دست به چنین فیصله و اقدام یکطرفه نمیزد . اگر ادعایي در میان بود، شده میتوانست که از طریق خود و یا اخضر ابراهیمي به مسولین امارت اسلامي در میان میگذاشت که دراین صورت به یقین یك راه حل معقول و اساسي سراغ شده و به مشکلات موجود خاتمه داده میشد که متأسفانه چنین نشد ، نماینده سازمان ملل متحد در اسلام آباد دست به اقدامي زد که نهایت عجولانه و سراسر مخالف با اهداف سفر اخیر اخضر ابراهیمي پنداشته میشود و البته بر مذاکرات نتایج منفي از خود بجا گذاشته و قسمت عمده وقت مذاکرات را به خود اختصاص خواهد داد .

به عقیده بسیاري از تحلیلگران اوضاع ، اقدام اخیر نماینده ملل متحد در اسلام آباد یك اقدام فرصت طلبانه به نفع مخالفین امارت اسلامي افغانستان پنداشته میشود ، زیرا تصمیم اخیر در وقت صورت میگیرد که مخالفین امارت اسلامي شدیداً درگیر اختلافات و زدو خورد هاي مسلحانه شده و به قیام ها و اعتراضات شدید مردم تحت سلطه خود مواجه گردیده اند که قیام اخیر شهریان مزارشریف شاهد خوب مدعا میباشد که از قوت و اعتبار ملي و بین المللي آنها سخت کاسته و آنها را در شرف انزواي کلي قرار داده است . این اقدام اخیر نماینده سازمان متذکره اذعان میرود براي این صورت گرفته باشد که تحولات اخیر شمال به خصوص قیام هاي گسترده شهریان مزار شریف را که علیه گروه هاي شر و فساد صورت گرفته تحت شعاع قرار داده و از اهمیت و ارزش آن بکاهد .

توقوع میرفت که سازمان ملل متحد از قیام مردم مزار شریف حمایه و حملات نظامیان گروه هاي شر و فساد را علیه مظاهره چیان بي گناه و غیر مسلح محکوم میکرد که متاسفانه چنین نکرده و در مقابل تصمیم اتخاذ نمود که به هیچ صورت با اهداف سفر اخیر ابراهیمي پهلو نداده و به نفع جریان تأمین صلح و امنیت در افغانستان تمام نخواهد شد .

غزل

اجمل ارمان

اوس هم شمله د هنوکښ هملسې رنګه ښکاري
خو پښتنه ګیرډي بې غیرې کي رنګه ښکاري
د چا غرور چي تعویزو او کوډونه ماتوه
هغه د شل متکوبومیره اوس ملنګه ښکاري
موټر یې په سترګوکي ترې ترې ښایست لټوو
ښکلو ته هسې زموږد زړونو دنیا تنګه ښکاري
د قاف دیوانو بې په مخ وحشي نوکاري کښلي
د ارمونو ښاپیرې مو خو د بدرنګه ښکاري
چي مي رنځوري هیلې وژني دطبیب په ګوتو
زما ددي عصر دښمن خوږ برېښي تنګه ښکاري
خره شمله د سور سالو تر څنګه ویریسیده
وایه ارمانه! چي اوس زړه مازیګر څنګه ښکاري

غزل

عزت الله «خوّاب»

اغزي مي لاس کي پاتې شول ګلونه اویه یوړل
والله زما د عمر خدمتونه اویو یوړل
د مبیني کلمه مي د ثواب په خاطر زده کړه
ګناه سره مي ژوند شو ثوابونه اویو یوړل
مطربه! په مزه مزه د زیرته بم ته لاړ شه
غزلي پکي نیسه که نظمونه اویو یوړل
تنزرو د جنت د ودانۍ دیوال شروع که
کارغانو! ستاسي واړه دوزخونه اویو یوړل
شوګیره! تصور کي دي، دي ټول کلي کي زه ووم
غمونه دي ویش کړي دي خوبونه اویو یوړل
«خوّابه» ! په پرهر زړه کي دي بیا ښکلي ګرځېږي
هغه د تروشي تنهې خوابونه اویو یوړل

شور

روډوال

پسپسي شو ګونګوسه شوه غلي غلي
بیا د کوه حسن کیسه شوه غلي غلي
لکه ګل نه چي خمار وړمو راشي
را خوره بې اواز شوه غلي غلي
د زړګي سیوند پاتې درته څه دي
چي ملاله دي ستنه شوه غلي غلي
ټکني شول د عشق واړه تکلونه
بیړندویه تلوسه شوه غلي غلي
روښنایي د زرخریدو چیرته درومي
د ملنګ دوهي سره شوه غلي غلي
هر کلي کي بې موسکا له ډیره شرمه
د سلګیو زمزمه شوه غلي غلي
نه له اوره نه له شوره څوك خبر شول
د زړګي خونه لمبه شوه غلي غلي

مننه

بوه تازه نفس سیاستمدار مانه په بوه أمرانه لیك کي کښلي : ساده کیره مه زړي خبري نوري مه چېړه، د ګل او بلبل خبري، د خیالي مینې او عشق سندرې نوري زړې شوي، د وخت په تیریدو معیارونه او ارځښتونه بدلیږي. لکه څنګه چي موږونه او فیشنونه بدلیږي دغسې فکرونه او نظریات هم اوړي را اوړي. اوس له زړه وتلي غمشي د مینې سمبول نشو کیداي ، اوس په بله شمه د طوان کوونکي پتنګ په انځور کي عاشق د خپلې مینې کیسه نشي څانولی. لکه څنګه چې د حسن معیارونه بدلیږي دغسې هر څه بدلیږي اوس توري اوږدې زلفي نه د چاند ښکلو زولنې کیداي شي او نه د چا د غاړې هار ګلنار بیګم ښاپې یدې خبره ښیسانه وړ چي ویلي یې دي: «چانه زولنې شي او د چا د غاړې هارشي، دغه توري زلفي مي» اوس هر څوك معروف دي، د مینې، هجران غماز، بیلتون، رقیب هغه اوړه ، اپنونه ا سخت مزلونه لنډ شوي، د ګودر ، حنونه نه شوي څکه په هر کور کي واټر بمیونه او د فشار پانکي لګول شوي، اوس دغه لنډو خپل افادیت بایللی :

دیوال سوري کړه خولګي راکړه
پلار دي خبګر دي بیا به خوږ کړي دیوالونه

اوس په پارکونو او بازارونو کي دا هر څه رد بر الا تر سره کیږي

په سیاست ، مینه او جنګ کي هر څه روا دي څکه خو بو څوك بدي نشي ملامتولی چي هغه بله ورځ یې څه ویل، پرون یې څه کول او نن څه ؟

نن هر څوك د منافعو سیاست کوي وګرزه د سیاسي نظریاتو او د لبندیو زمانه تیره شوه او د اقتصادي او تجارتي بلا کونو د جوړیدو وخت راغلی، نور هغه وخت تیر شوي چي څوانانو به د «مکتب هاي سیاسي» او داسي نورو کتابونو په مطالعه سترګي رنډي کړي او له ظلم، استبداد او دیکتاتوري سره به یې د مبارزي خوبونه لیدل .

هغه ... نه ګوري چي څواني یې په مفهوم پس یې ډیر سرخوږوي ندي په کار .

اوس ټول د پیرنګي سیاست کوي چي وایي: بریتانیه نه همیشني دوست لري او نه همیشني دښمن - ستا د خپل هیواد اتلافونه، اتحادونه او جریانونه یې ښکاره بیلګه ده .

غبار او محمودي ته نه ګوري چي محمودي خپل مند او په اصطلاح د اصولو تقدس د مرګ کومي ته ورکړ او غبار چي د وخت په تراکت یې سر خلاص و د بوه مورخ په توګه په ژوندي پاتې وي.

وخوره .

څوك چي ترسنم لاندي قومونو شعار ورکوي هغوي ته دا شعار د یوي حربې او وسیلي پرته بل ارځښت نلري او په ډیره یې دردي یې ویني د خپل جنګي ساتني د چلولو لپاره د تیلو په څیر استعمالوي زما هیله ده چي ستا به هم څه سد سر ته درغلي وي.

د سیاستمدار اشنا له لیك سره که یې ښیپړه توګه متفق کیدي نشم خو تر اوسه مي ینځه شپږ خلي لوستی، کیداي شي بیا بیا یې ولولم او په هر ځل لوستو یې نور هم تر منتشر لاندي راشم، زما بو ستې سیاستمداران د سیاست مداریان ګڼي، مداریان چي مار هم اړه کړي زهریې ورك شي.

د سیاست او ده ډیر ریاضت غواړي د سیاست ماران لکه د زلفو داسي نه دي چي چیچلي یې بیاوایی : د تورو زلفو منګوړو وخوړم خو هیڅ بلا نه وي وهلي، په سیاست کي چي نن د کوه کار یه نه کولو څانونه ښاغلي او سرلوړي ګڼي سبا د هغه هغه کار په تر سره کولو څانونه ویاړمن بولي چي له ریږ نه هم د ډیر ناوندو ظرفیت او استعداد غواړي چي زموږ په څیر د وجو هوډکو انکلونه یه پکي ضرور ځوړ ځوړ شي.

د اشنا په لیك کي له مانیږه د خوا خوږي او مهرباني ډیري خبري شته چي له سیفو کیدو مخکي مي د پوهید هڅه کړې چي زه تري مننه او منکوریه خو که زما بیا هم سد سر نه راته شي نو درغه لیك یې ښاي داوي چي د نه څي په سبا به دي کړې، چي نه خوري څه به دي کړې او درته بیا وروستي دا چي :

زړه کیه خوره غمونه چي زما دي نه مثل نصیب دي شول درد دي چي زما دي ته مثل

پتی پاڼی

شهرت ننګیال

حیلونو وخوړه چي چابه تري پوښتنه وکړه خوانه خپل کور حور کړه ده به ورته ویل: ماله خپلي نظریې سره وفاده کړي، او نظر یې خو پولو ولیدي چي څیني «امو» ډوبی کړي او څیني په «راوي» لاهو شوي.

اوس د اصولو د سیاست سرلیك خپل رنګ بایللی منافع د تولو اصول ګرځیدلي اوسني زمانه ډیره هوښیاره ده، څکه خو ارسطو یدي احمق بلل کیږي چي د خپلو اصولو لپاره یې د زهر و جام پر سر واړاوه،

هوښیار سړي لکه ربړ داسي وي چي هري خواته د تاویدو استعداد ولري.

د کمونیزم ضد مبارزه کي د اسلام شعار د امریکي لپاره هم په زړه پوري و خو اوس هغه دلچسپي په دښمنۍ اوښتې، اوس دوستي او دښمني ده ټکی دي چي

مرحوم داوي چي تردي بوه لسیزه د مبارزي په تور د حیلونو میلمه و نیه و هغه وخت پوه شو چي لا «سیفو» شوي نه و خو څیني هغه وخت پوه شي چي «سیفو» شي او څیني لا چي «سیفو» هم شي خو پوه نه وي.

دا هر څه بو شعار دي لکه دد کانونو او تجارتخانو لوحې او اشتهارونه ، تا خو ولیدل هغو چي د کارګر او مزدور ګرداتونه او د کور کمالي او ډوډې شعارونه ورکول، تر ټولو د مخه د مزدور او کارګر پرسري چاره کیښوده، هغو چي د پښتو او پښتونولي کانې په سینه ډبول د هغوي لپاره تر ټولو بتیه دکانداري او سوداګري همدغه ده، د ښاغلي ... شاهین په وینا څول پښم ... او جا ښم

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په اهتمام او نوښت د پسرلني مشاعري شانداره غونډه په انتر کانتیننتل هوټل کښي جوړه شوه

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په اهتمام او نوښت د پسرلني مشاعري غونډه د پنجشنبي په ورځ د ذي القعدي په ۲۸ مه له غرمي مخکي د کلام الله مجید د څو ایتونو په لوستلو او د هیواد د ګڼ شمیر مشهورو شاعرانو ادیبانو او لیکوالان و په ګډون د انترکانتي نینتال هوټل په صالون کي جوړه شوه

د شریعت اوونیزې خبریال خبر راکړ چي د مشاعري په دي غونډه کي د هیواد د مرکز او ولایتونو په شاعرانو او لیکوالو برسیره خینو لوړپوړیه کارکوونکو د اسلامي امارت د کابیني غړو، عالمانو، طالبانو د کرهنې وزارت سرپرست وزیر محترم مولوي عبداللطیف منصور ، د لوړو تحصیلاتو د وزارت معین محترم ملا محمد موسی ، د کابل والي محترم مولوي عبدالمنان نیازي ، د سرپرستي شورا د چارو د اداري عمومي رئیس محترم مولوي محمد طاهر انوري، د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله زرمتي، د کابل پوهنتون رئیس محترم مولوي پیر محمد روحاني، د اطلاعاتو کلتور وزارت فرهنګي معین محترم مولوي عبدالرحمن احمد هوتك، د سرپرستي شورا د مطبوعاتي اداري رئیس محترم مولوي عبدالسلام مسلم، ژورنالستانو ، کارکوونکو ، د هیواد د ډله ایزو اطلاعاتو د وسایلو منسوبینو او بو زیات شمیر شاعرانو او د ادب مینه والو برخه اخیستي وه .

د مشاعري په غونډه کي لومړي د قران عظیم الشان څو ایتونه ولوستل شول وروسي د اطلاعاتو او کلتور وزارت فرهنګي معین محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد هوتك لومړي په غونډه کي د میلمنو د ګډون له امله هغوي ته ښه راغلاست ووایه او وروسي یې د مزار شریف د سوله دوستو او ازادي غوښتونکو خلکو د باڅون د شهیدانو د پاك روح درناوي وکړ او دعائیه یې ولوستله، حاجي هوتك وویل : د مزار شریف مومنو او زړورو خلکو د زیاتو تلفاتو او مالي تاوانونو په ورکولو سره په مزار شریف کي د توپکیانو او ملیشو پر خلاف په ملي پاڅون لاس پوري کړ او د پردیو د اعتقادونو په وړاندي یې د خپلو پاکو وینو په تویولو سره خپله کرکه او نفرت څرګند کړ د افغانستان خلك په دوو وروستیو لسیزو کي له زیاتو ستونزو او مصیبتونو سره مخامخ شوي دي خو د خپلي ازادي په خاطر تل د تیري کوونکو او استکبار په وړاندي دریدلي دي او مجاهدت یې کړي دي او د زیاتو قربانیو په ورکولو سره یې د خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو دفاع او ملاتړ کړي دي .

جو نن ورځ هم د هیواد د شمال د سیمو د ولایتونو په ښاوخوا او ګوټ ګوټ کي خونړي تراژېدي دوام لري او خلك په وینو لړل کیږي .

محترم هوتك د خپلو خبرو په پای کي د هیواد د زړه سواندو شاعرانو او فرهنګیانو رول پاکونکي او کلیدي وباله او له هغوي نه یې وغوښتل چي پخپل قلم او لیکنو سره ملت د نیکمرغی ، د بووالي د ساتني، اسلامي واکمنۍ او د دیني او ملي ارزښتونو دفاع ته ورسیخ کړي .

وروسي د سرپرستي شورا د رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني پیغام د سرپرستي شورا د مطبوعاتي دفتر د رئیس محترم مولوي عبدالسلام مسلم لخوا ولوستل شو.

د پیغام له لوستلو وروسته مشاعره پیل شوه او ... تکړه او پیاوړو شاعرانو خپل شعرونه او لیکني چي له هسدي امله یې برابري کړي وي په وار سره ولوستلي د مشاعري د غونډي مشرتوب د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله زرمتي په غاړه درلوده.

د پسرلني مشاعري غونډه چي د هسدي ورځي تر مازدیګر پوري یې دوام وکړ د محترم مولوي رحیم الله زرمتي په لارښوونکو خبرو او څرګندونو او په هیواد کي د اسلامي نظام د ټینګښت او پراختیا او د سراسري سولي د تامین په باب د دعائیه په لوستلو سره پای ته ورسیده .

د غونډي په پای کي په هغو شاعرانو باندي نغدي جایزې ووېشل شوي چي په دغه غونډه کي یې خپل شعرونه ولوستل .

په دي مشاعره کي د هیواد اتیا تنو شاعرانو خپل شعرونه ولوستل چي د مینه والو د پاملرنې او تاوده هر کلي وړ وګرځیده ، دا دی د دي مشاعري څیني شعرونه چاپ ته سپارو .

←

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په نوښت د پسرلني مشاعرې د ګډون کوونکو په نوم د سرپرستي شورې د محترم رئيس الحاج ملا محمد رباني پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد و على آله و اصحابه المتأدبين بآدابه؟

اما بعد: محترمو ميلمنو، اديبانو، شاعرانو، د ادب مينه والو او درنو حاضرينو!

السلام عليكم و رحمة الله وبركاته

د شکر او خوشحالۍ ځای دی چې یو ځل بیا د په پسرلني مشاعرې د غونډې په مناسبت د هیواد په زړه کې په خیر سره راغونډ شوي یاستي. د خپل اسلامي او ملي ادب او فرهنګ دودي لپاره د شعري هنرونو ملي ميراث ته پراختيا ښکلا ورکوي. له کله نه چې د هیواد په زړه (کابل) باندې د اسلامي امارت د امن او برکت لمن غوړیدلې ده او تاسې په آرامي او پوره ډاډ سره د دوهم ځل لپاره ادبي او شعري هنرونو ته ښکلا وربخښئ دغه د الله تعالی فضل او رحمت او د سپیڅلو طالبانو او مجاهدینو د قربانیو برکت دی نو ځکه ضروري ده چې د الله تعالی شکر او مجاهدینو ته د دعاګانې هیرې نه کړو!

درنو اديبانو! د افغانستان اسلامي امارت به ستاسې د استعدادونو دودې او شعري هنرونو د اغيزې د پياوړي کولو او مثبت لورې ته رهبرۍ کولو څخه خپل وس او وسائل نه سپموي ترڅو د ګران هيواد د ساتنې او سمسورتيا لپاره نه يوازې اديب او شاعران بلکې ځيرک سياسي رجال او کره اجتماعي او جهادي ميړونه هم وروزل شي!

زمونږ هیله او تمه دا ده چې د شعر بهیر له خپل زاړه بې ګټې د خط او خال له عاطفي مسير نه د سړي جوړونې، تهذيب، روزنې اخلاقو او حماسو مسير ته راتاو کړئ او ګټور لورې ته يې لارسوونه وکړئ ترڅو ستاسې په دغه بختور بنسټ او لاره باندې د راتلونکو نسلونو شاعران تر پيړيو، پېړيو پورې يون وکړي ثواب او سر لوړي يې ستاسې په برخه وي. من سن سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها ومن سن سنة سيئة فله وزرها و وزر من عمل بها -

نور ستاسې له خپل پيل کړي پروګرام سره يو ځاي په الله تعالی سپارم. والسلام

ستاسو ورور ملا محمد رباني
د سرپرستي شورې رئيس

د عشق رنا

داکتر باز محمد «ښادمن»

زه دي ستا خمارو سترګو مستانه کړم
و بلبل ته د ګل شونډې بهانه کړم
نازولې ښاپيرې تکبر پرېږدې
چې زه کبر ستا په مينه شاهانه کړم
ترکې مړاوې مړاوې سترګې کښته ګورې
چې زه سترګې ستا د مينې نښانه کړم
د سپوږمۍ او لمر سيالي کله له ماشي
زه ښکاره که د ستا پټه يارانه کړم
د بهار سندرې نشي بې له عشقه
اې معشوقه زه به څه دا زمانه کړم
پسرلي د نازولو په جرګه ځي
زه عاشق به پسرلي څه جرمانه کړم
د بهار سندره نه ده زما عشق ده
را واصل شه بې له تابې ديوانه کړم
د ښاديو په انځور د عشق رڼا شوه
زه «ښادمن» به ترينه ډکه پيمانه کړم

بهار راغلی

خوشحال «تسل»

په لمبو سوې بڼ بې لارې څاري
په وران وطن زما بهار راغلی
چې ورته زړکې آنبوته کوي
بيا کوم شپږونکي پدغمه لار راغلی
پر زخمي شونډو موسکا ونخنوه
نن چې دې غيږې ته ماليار راغلی
نور به يې وچې شي لمبې له اوښکو
پردې ولش د خندا وار راغلی
زمونږه پردې خزان وهلې باغچې
زيرې د ښکلې نو بهار راغلی
نن مو پر دغه کږېدلو ځل کو
پس له اوږدې مودې کرار راغلی
ابدالې نوره ورته وپرښيږه
چې پر غليم وخت د ګوزار راغلی
غاپولا ستا دا ننګو په تنه
«تسل» نه ګوره چې خمار راغلی

د بهار ورځي

س. مجاهد

موسم شو ښکلی د بهار ورځې دي
درويږ را ياځي چې د کار ورځې دي
هره خوا شنه ښکاري ښه ځير شئ ورته!
لمنې يې هې د زيار ورځې دي
ويجاړ هېواد مو جوړېدل غواړي
نه چې نور هم د انتظار ورځې دي
نن به ويلو هېواد ته جوړېږي
اوس د عمل او د کردار ورځې دي
هېواد به جوړ شي که همت وکړو مونږ
بيا به شنه نيره ون سهار ورځې دي
کښې ځوان اوږو لري چوپړ د وطن
وخت تيريږونکي دي د نسار ورځې دي
که سرتره لول واړه يو لاس شو سره
په غمنو د ګوزار ورځې دي

پسرلي ته خطاب

قاضي محمد حسن حقيار

واوره پسرليه، سکون نه شي ګوره شور شه
تندر په دښمن شه بوګنونکي لمر او شور شه
د امرې مرې شونډې او دا ټپې ټپې زړګې
دي سوبو زخمو ته مو مرهم شه هم پکور شه
پورته شه شهاب شه، شيطانان په غشو وله
مځکې ته رنګ ورکړه، د شهيد د وينو پور شه
مورګې د شبير او هندوکش چې را زرغونې کړې
تا ومې د سپين غره شه د پامير په څوکو خور شه
د قار او ستم ډېو يې اننګو ته سرخې وړې ده
دي يتيم ارمان ته مرهم پلاړشه او هم مور شه
اوښکې مې کاروان، احساس ځاروان، خانه بدوش مه
سورې د چنار نه شي، نور نه زمونږه کور شه
څومره رنګينې چې د فطرت درته ښکاريږي نن
دي نه هم ښايسته د يار مې ته هم ورته نور شه
پريږده سره ډېکرې ماړدېګرونه چې ښايسته وي پرې
شعر د «حقيار» کې د ګودر غونډې انځور شه

حديث دل

نصير احمد «نشاط»

غنچه ها شگوفان شد، فصل نو بهار آمد
مرغ شب غزلخوان شد، فصل نوبهار آمد
دامن سفيدش را، ساق کوه بالا زد
چشمه ها خروشان شد، فصل نو بهار آمد
ارغوان صحرايي، ميشود تماشايي
وقت سير پروان شد، فصل نو بهار آمد
سبزه ها ز مردگون، از زمين شود بيرون
سنگ و خاك پنهان شد، فصل نو بهار آمد
لاله از پي ليلا، خيمه در بيابان زد
دشتها گلستان شد، فصل نو بهار آمد
رقص ميكند بلبل، گرد سوسن و سنبل
جشن عشقبازان شد، فصل نوبهار آمد
كبك ميزند چهچه، آبشار مي غرد
رعد و برق و باران شد، فصل نوبهار آمد
تا حديث دل گفتم، دوش در دل صحرا
لاله سينه بريان شد، فصل نوبهار آمد

له مزاره تر کابله

جانان

د پسرلي ياد مې د قلم ژبې ته کله راځي
چې مې په ژوند کې خزانونه تل تر تله راځي
د وصال شپې انځور په الحمه ولې نشه
د فراق سوځنده غزل ګوره پخپله راځي
د ليلې دښته مې په خپلو وينو ونړه ګرله
بوی د ګلاب يې له مزاره تر کابله راځي
چې يې په ژوند زما زخمي زړګي په غشو ويشته
اوس مې په خاوره د غاټولو سيل ته حله راځي
حکه جانان د زړه کسرې پانو د ګل کې نغاړي
چې يې د تاندو هيلو بڼ ته بيا بلبله راځي

بهارستان وطن

مهر الله «دردمند»

باز آمد نو بهاري در گلستان وطن
با خود آورده پيامي بهر دامان وطن
مي وزد در گلزمين كشورم بوي بهار
ارمغان آور، ز باغ و هم بهاران وطن
لاله، آزاده روييده، فراوان در چمن
از نثار قطره، خون شهيدان وطن
سر زده در مزرع توحيد، گلهاي امید
آبياري گلشن ما شد ز باران وطن
سبزه، دشت و دمن درديده اهل بصر
نو بهاري از بهارستان دوران وطن
گلبهار ميهن ما خوشگوارا شد از آن
تا ثمر گيريم ز نخلستان ارمان وطن
شد بهار سال نو مژده فزاي مومنان
وقت پيروزي رسيده پاسداران وطن
منت حق را كه بعد از سالها درد و الم
شد دواي درد مايان را درمان وطن
زنده گي كردن به زير چتر شرع احمدي «ص»
مي نمايد خوشتر آسايش شگوفان وطن
ملت يكتا پرست و قهرمان را شاد باد
فيض عام نو بهار، بر دردمندان وطن
هر مجاهد ر (دردمند) اين تحفه باد! پيشكش
زنده باد اسلام، و هر فرد مسلمان وطن

پسرلي

داکتر محمد علم اسحق زي

هرې خوا ته ګونګشې او شرنګهار دی
د وصال زيري راغلې چې بهار دی
نورې نورې ترورمې په خندو دي
د افق سپيدې خندلې چې سهار دی
عاشقان بې ننداري لره راوځي
د سهار وږمه مې زيري د خپل يار دی
چې يې اوښکي په سپين مخ باندې ځليږي
هر شفقه يې ځځو ته انتظار دی
سنې واورې ويليده ګاندي بهيږي
شور او زور هره دره کې د ابشار دی
رنګين ګلان غوړيږي نورو غرڅکي
خور لمنې د هر شنه بهار زيبا دی
ګرولدي به ددې ځمکې تکې شنې شي
وچو ځمکو ته جوړ شوي لاله زار دی
زيري ورکړه وطنوالو ته ساګريه
چې بهار په اميدونو ښه ستکار دی

شيبه په شيبه

عبدالحنان «همت»

په زړه باندې مې ګرانه ستا يادونه ځي راځي
لمبو د هجر سوي ارمانونه ځي راځي
ستا مينې مې په ټول وجود وړر دې خپاره کړې
شيبه په شيبه ګرانه ستا خيالونه ځي راځي
د لارې ګردې داوړئ چې راتجي بې کړو د سترګو
د عشق د ليونو پرې کاروانونه ځي راځي
د اپورې غاړې د يو سو د خوښې ورځې کړې ورکې
په وير او په ماتم کې اخترونه ځي راځي
زمونږ د هيلو مړاوې غوټې کله هم ګل نشوې
په ښيه د خزان کې بهارونه ځي راځي
لاشونه راتوي د پاکې مينې په الزام
شرنګې د زولنو دي ځنځيرونه ځي راځي
بوه سپينه رڼا راشي توري شپې په کاږو ولې
په خوب کې راته هر وخت سهارونه ځي راځي
اميد مې شته چې اخر به مې ويده ولس را ويښ شي
غورزو ته مې د (يا ځي) اوازونه ځي راځي
هسک پرواته الوزي د خيال مرغه همت
لنډه ته دي نن بيا چې الهامونه ځي راځي

سحر راته خنديږي

سعد الله «ميوند»

د انګار سيورې ته ناست يم د لمبو څڅو ته ګورم
سپيلنې لکه پتنګ شوم دلګو څڅو ته ګورم
د شاعر بخيال په غزل کې يو سحر راته خنديږي
خدايه څومره دې اوږدې کړي لاد شپو څڅو ته ګورم
زولنې دي که د امو نه خوبونو پکې بندې دي
پر سپين مخ دي تورو تورو دا خورو څڅو ته ګورم
اي ماښامه بختور يې ميکدې درکې خلاصيږي
د افق په جزيرو کې دې سکهو څڅو ته ګورم
چيرته ناست يم په ګلکځ کې د جاياد رانه مسکې دي
د کوم سند په مسته غيږ کې دڅپو څڅو ته ګورم
د تاسور پر هر له درده د حسرت د مور له سترګو
د شهيد ارمان پر قبر د جنهو څڅو ته ګورم
د وريښمينو ګلو پال دي د ميوند د غزلخيال دي
هم سبربري هم خنديږي دغوټو څڅو ته ګورم

گلبهار ميهن

محمد نذير «احمد زي»

محفل و انجمن عشق شگوفان شده است
يا كه يكبار، بكشور بهاران شده است
شورش و سوز و گداز، بلبل راز داشت همي
يكسره گلشن و چمن نمايان شده است
سرو و سنبل، چمنستان وطن آزين شد
مظهر شادي ما اختر تابان شده است
حمد لله كه جوانان وطن شاد بينم
پرتو موسم فرخنده عرفان شده است
عندليبان به ترنم سرايند غزلي
پاي گلزار شقايق، خرامان شده است
سال فتح خوانش يا سال نو اندر قاموس
وصف و عنوان ستايش رخ خوبان شده است
گلبهار ميهن مان چراغان نگرم
مشعل دانش د دين شمع فروزان شده است
تا شگفت غنچه سبز به باغ و بوستان
ارمغان خاطر خسته مايان شده است
تحفه آمده، شعر و سرود و نظم و نثر
محفل شادي امروز اديبان شده است

تصوير

لاهو

ماوي: اې ښکلې نرګسه!
ولې؟ ملا دې شوه کږه
وي: د سترګو انځور کړته
په رکوع کوم سجده
* * *
د طالب توې شوې ويني
پاڼې پاڼې سپين کتاب
پسرلي سره يې راوړ
شينکو پوټو د ګلاب
* * *
ماوي: ګلو ... ولې ... څنګه؟
ستاسو سترګو کې شوګير؟
وي: لاسونو کې مو راوړ
د شهيد طالب تصوير

گل صلح و صفا

محمد ضيا «كوشا»

بهاري ديگر آمد، باز درين گلشن ويران
كه سبزه جاي خون را زير پاي خود كند پنهان
ز بس در هر كناري كشته گان ظلم افتاده
كشيده لاله سر از جوش خون در دشت و در دامان
شده پامال هر نا بخردي گلهاي اين گلشن
به هر گوشه سواران هوا كرده پي جولان
خزان خود پرستي ها از اين باغ هر چه با خود برد
خوشا ما را از اين پس گر بود يك عزم و يك پيمان
ز حرف (تو) و (من) حاصل نشد جز رنج و ويراني
بيا تا(ما) بسازيم بعد ازين هرگوشه آباد
وطن آباد خواهد شد ز كار ما و لطف حق
اگر يكدسته با هم يار و ياور، پيرو قرآن
بهارا! آمدي اينكاش باشد تحفه ات امسال
گل صلح و صفا و همدلي بر كشور افغان
طبيعت را بهار نو به تن چون جان بود «كوشا»
مرا مهر وطن اينگونه باشد در تنم چون جان

اي رهنورد نور

مولوي فقير محمد خنجري

اي رهنورد نور به ميهن خوش آمدي
از بهر دل ظلم دريدن خوش آمدي
از شوق تو دلها به تپيدن خوش آمدي
ما در طلب عشق چمن زار تو بوديم
از دل بخدا يار وفادار تو بوديم
در فصل گل افتيده به دامن خوش آمدي
هر سو به چمن گريه و زاري و فغان بود
ظلم و ستم برف به هر پير و جوان بود
از ديدن تو شد به رسيدن خوش آمدي
امروز كه پوشيده چمن جامه، مخمل
هر گل به چمن بين كه با خنده مجلل
پروانه به هر سو به پريدن خوش آمدي

در قلب چمن تازه چو سوسن خوش آمدي
در فصل بهاري به وزيدن خوش آمدي
اي رهنورد نور به ميهن خوش آمدي
از دير زمان چشم بديدار تو بوديم
دلباخته و شيدا كه به پيكار تو بوديم
اي رهنورد نور به ميهن خوش آمدي
سر رشته، گلها همه در دست خزان بود
پوشيده نبود با همه كس لخت و عيان بود
اي رهنورد نور به ميهن خوش آمدي
در ميهن ما صلح و صفا هست مكمل
بلبل به ترنم شده درگوشه، محفل
اي رهنورد نور به ميهن خوش آمدي

د پسرلي په انتظار

گوهري

بهاره چې راځې مړا وو ګلونو ته راځه
راځه د امروري غوټې بيا په خنديدو کړه
متم ته په ښايست او په ښکلا باندې عاشق يې
ښايسته د بودې پال پاس په نيلي اسمان کې جوړ کړه
وحشت کمه په شا شو چې به نه لري کږېدلې
د نار په ځاي د نور شغلې خپرې په هره خوا دې
غاټول راټوکوه د شهيدانو په قبرونو
بهاره! ستا بربنډاوي تنې وريځې مې خوښيږي

ځونګړو ته راځه ړنګو کورونو ته راځه
د جنګ لمبو کې سوېو تورو غرونو ته راځه
طبعي ښکلا لري دې ګړنګونو ته راځه
د لمر زريښو وړانګو او خوندونو ته راځه
انس راغې دلته راشه الفتونو ته راځه
رادرومه د عشاقو محفلونو ته راځه
زيدې پکې راشنه کړه دې داګونو ته راځه
ژوندي کړه للمې زارې دې دښتونو ته راځه

راځه چې «ګوهري» دي د راتلو په انتظار دي
باران سره د واورو درمندونو ته راځه

د بهرنیو چارو د وزارت اداري مُعین ...

محمد رباني په مشري تر سره شو د پاکستان د حکومت په رسمي بلنه وُ.د پاکستان حکومت مونر ته بلنه راکړیوه چې د ځینو موضوعاتو او په ځانګړي ډول د سولي لپاره د علماؤ په لست او ددي لست په اړه زمونږ د درځ په هکله له یو بل سره خبري وکړو .

پوښتنه : په دي سفر کي مو له چا سره وکتل او په کومو کومو موضوعګانو سره وغږیدلي؟

ځواب : مونږ په دي سفر کي د پاکستان له جمهور رئیس محمد رفیق تارړ، صدراعظم نواز شریف د بهرنیو چارو له وزیر ګوهر ایوب خان، په بهرنیو چارو کي د دولت له مشاور وزیر صدیق کانجو سره وکتل.مونږ پاکستاني مقاماتو ته د افغانستان د وضعي په هکله معلومات ورکړل د علماء و د لست په هکله مو د عالیقدر امیر المؤمنین نظر او په دي لست کي نیمګړتیاوي هغوي ته ځرګندي کړلي مونږ هغوي ته وویل چې دا لست ځکه د قبلولو وړ نه وو چې زمونږ شرطونه په کي پوره نه وو چې له هغي جملي نه یو دا ؤ چې مخالفین باید د لست اعضاوو ته پوره واك وسپاري او لاسلیك ورته وکړي.دوهم دا چې دا لست باید بي پلوه وي خو دوي داسي کسان هم په دي لست کي معرفي کړي وو چې له خاد سره یې تړاو درلود لکه جنرال خدایداد او داسي کسان یې هم معرفي کړي وو چې هغوي جنګي قوماندانان وو نو مونږ هغوي ته وویل چې دا د علماء و بدنامي ده په دي کي په علماءو پوري استهزا شوي ده مونږ هغوي ته په ټینګه وویل چې که مخالفین په لست له سره غور وکړي او مخلص، جید او مستند علماء د فیصلي لپاره وټاکي نو مونږ هم چمتو یو په پاي کي مو په دي فیصله وکړه له چې یو پنځه کسیز یا اووه کسیز کمیسیون به د هغوي او زمونږ دواړو لخوا ټاکل کیږي تر څو په هغو شرطونو غور وکړي چې د علماء و په هکله زمونږ لخوا ابښودل شویدي او دي کمیسیون ته به رسمي واك ورکول کیږي

پوښتنه : ددي سفر عمده نتایج او لاس ته راوړني را په ګوته کړي ؟

ځواب : الحمد لله مونږ په دي سفر کي دیر څه لاسته راوړل د مثال په ډول مونږ پاکستاني مقاماتو ته دا وښودله چې مونږ د سولي او مذاکراتو په هکله مخلص یو مونږ تفاهم ته چمتو یو همدا راز د مخالفینو د لست نیمګړتیاوي مو ور په ګوته کړلي همدا راز هغوي ته مو وویل چې تر څو بهرني مداخلي بندي نه شي نو زمونږ او د مخالفینو تر منځ سوله نا ممکنه ده ځکه زمونږ د مخالفینو هر اړخیز اکمال پردي کوېي او هغوي خپلي غوښتني پري مني نو مونږ هغوي ته وویل چې لومړي باید له هري لاري چې وي د پردیو لاسوهنو مخه ونیول شي که دا د ملګرو ملتونو له لاري وي که د اسلامي کنفرانس له لاري یا له نورو لارونه .

پوښتنه : تاسي خبر یاست چې افغاني سوداګر په پاکستان کي له راز راز ستونزو سره مخ دي خصوصاً په کراچي کي د افغاني سوداګرو د مالونو خبره خو بالکل ځنډني شوه تاسي په دي اړه هم له پاکستاني مقاماتو سره کتلي دي ؟

ځواب : هو له مونږ سره په دي هیئت کي د سوداګري د وزارت معین محترم مولوي نیك محمد د مالیي د وزارت معین محترم مولوي عارف الله «عارف» د افغانستان بانك مرستیال محترم مولوي عبدالرب اخند زاده هم رو مونږ د پاکستان له جمهور رئیس او صدراعظم نه وغوښتل چې د کراچي په ښار کي د افغاني سوداګرو مالونه ازاد کړي ددوي لخوا پري لګول شوي دیمرج معاف کړي چې هغوي له مونږ سره په دي هکله کلکه وعده کړیده بیا دي مسؤلینو په پاکستان کي له خپلو سیالو وزیرانو سره هم کتلي دي چې هغوي هم ورته پوره ډاډ ورکړیدي.

پوښتنه : محترم حقاني صاحب له تاسي سره د سفر په دي هیئت کي د مهاجرینو راستنیدلو د لوي ریاست استازي او د مخابراتو د وزارت مسؤلین هم وو ایا هغوي هم د خپلو اړوندو چارو په هکله له پاکستاني مقاماتو سره خبري کړیدي ؟

ځواب : هو له پاکستاني مقاماتو سره په دي هکله هم خبري اتري وشوي.د مثال په ډول د پاکستان په جیلونو کي د افغاني بندیانو د برخلیك په هکله مو چې اکثره یې په وړو او جزوي جرمونو او د پوښتني د مرجع د نشتوالي له کبله بندیان شویدي همدا راز په افغانستان کي هم ډیر خلك په یو بل ولایت کي د مهاجرت شپي او ورځي تیروي لکه د غوربند او نورو شمالي ولایاتو مهاجرین چې باید له دوي سره مرسته وشي چې دوي راسره کلکه وعده کړیده . همدا راز د مخابراتو په هکله مو ورته وویل چې ګوم تیلیفونو نه چې دوي مخکي مونږ ته راکړیدي او په کابل ، جلال اباد، قندهار او هرات کي نصب شویدي د هغوي په هکله زمونږ سره رسمي پروتوکول لاسلیك کړي ، مخکي مو هم یو بل مکتوب ورلیږلي وو چې دوي په دي هکله هم کلکه ژمنه زمونږ سره کړیده .

پوښتنه : تاسي په پاکستان کي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي اخضر الابراهیمي سره هم کتلي دي له هغه سره مو په کومو موضوعاتو خبري وکړي ؟

ځواب : مونږ له اخضر ابراهیمي سره د افغانستان په عمومي وضعیت وغږیدو او د نظر تبادله مو وکړه له چې افغانستان ته سوله څنګه راتللی شي، هغوي سره په کتنه کي مو بیا په دي ټینګار وکړ چې د جید و علماء و د کمیسیون فیصله کولي شي چې د افغانستان لانجه حل کړي ده ته مو هم د مخالفینو د لست نیمګړتیاوي ور په ګوته کړلي او دا مو ورته روښانه کړله چې تر څو په افغانستان کي بهرني مداخله نه وي ختمه شوي نو کړکیچ به حل ونه مومي ده ته مو په افغانستان کي د مداخله کوونکو هیوادونو یوه نمونه اسیران وربه ګوته کړل چې فوځیان یې زمونږ د مخالفینو په څنګ کي ودریږي او ډیر شمیر یې اوس هم زمونږ سره اسیران او هر چاته یې ښودلي شو .

پوښتنه : مونږ اوریدلي دي چې په قندهار کي ځینو موسسو خپل کارونه ځنډولي دي ددي لامل څه دي ؟

ځواب : ددي لامل په قندهار کي د قندهار د والي محترم ملا محمد حسن رحماني او د بهرنیو موسسو د مسوولینو تر منځ جزیي ستونزي وي اوس هلته دفترونه خلاص دي او بیراځي د موسسو بهرنیو کارکوونکو دفترونه پریښي دي او داخلي کار کونکي یې نه دي وتلي. مونږ په اسلام اباد کي اخضر ابراهیمي ته وویل چې دا کوچني او کوروني ستونزي دي ، په یو کور کي هم د پلار او زوي تر منځ ښکتنه پورته پیښیږي دي ته دومره اهمیت ورکول مناسب نه دي او دا مو هم ورته وویل چې دا ستونزي ځکه پیښیږي چې تاسي زمونږ د اصولو درناوي نه کوي نو ابراهیمي ته مو وویل چې مونږ او تاسي به سره کښینو سره خبري به وکړو تاسي زمونږ اصول ومني او احترام یې وکړي مونږ به هم ستاسو هغه اصول چې له اسلام او زمونږ له عنعناتو او ملي رواياتو سره سمون لري ومنو او ستونزي به حل کړو د دي لپاره سه لار دا ده چې ستاسو یو هیئت کابل ته راشي او له مربوطه مقاماتو او د مربوطه ادارو له مشرانو سره خبري وکړي او یوي مثبتي نتیجي ته ورسیږي.

دا مو هم ورته وویل چې له دي پیښي نه وروسته چې امیر المؤمنین دوي ته ډاډ ورکړ چې که دا کار شوي وي نو اینده کي به نه پیښیږي بیا هم له قندهاره د دوي وتل یو طرفه قضاوت دي [illegible] نه وه .

پوښتنه : [illegible] سفر کي مو له پاکستاني مقاماتو او اخضر ابراهیمي نه پرته بل چا سره وکتل ؟

ځواب : په دي سفر کي مو په اسلام اباد کي له جهادي شخصیتونو هر یو محترم مولوي محمد نبي محمدي، محترم پیر سید احمد ګیلاني ، افغاني تجارانو، علماء و او مخورو سره وکتل او هغوي مو په دي پوه کړل چې د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کي سوله، امنیت د شهیدانو د وینو ارمانونو غواړي او دا ټول په اسلامي نظام کي نغښتي دي .

پوښتنه، که مهرباني وکړئ د شمال د وروستیو پیښو په هکله معلومات راکړئ ؟

ځواب : د شمال وروستي او په یو بل د ائتلافیانو د توغندیو غورځول د دوي د عمیقو اختلافاتو ستر ښکارندوي دي تاسي واوریدل چې لس پنځلس ورځي وړاندي د اسلامي امارت مخالفینو په مزار کي غونډه وکړه د خیالي حکومت چوکی یې وویشلي خو ډیر لږ وخت وروسته یې یو بل ته سنګرونه ونیول په یو او بل یې د بارود و اوریل کړ عام خلك په کي شهیدان شول د خلکو شتمني چور شوي خیریه مؤسسي چور شوي تر دي چې د ICRC د مؤسسي د یو مسوول خپل د جیب پاسپورت هم سوزول شوي وو همدا راز په تخار، بدخشان، پنجشیر ، شبرغان او پلخمري کي د دوي جګړي ددي یو ثبوت دي چې د شمال اتحاد نور د باور وړ ندي او ډیر ژر به د شګو د کمر په څیر ونړیږي.

نظامي مسوولینو ته د ...

چې اسیران او یا ټپیان ووژني په اسلامي محکمه کي محاکمه کیږي ځکه چې د دوي دغه عمل له اسلامي اخلاقو او موازینو نه لیري دي هغه کسان چې په دغه شان عمل لاس پوري کوي د افغانستان د اسلامي امارت مخالف دي چې په موږ کي یې ځاي نیولی دي له جنګي اسیرانو سره نیك او سم چال چلند زموږ اسلامي وجیبه ده .

د درملو د کنترول ...

د عامي روغتیا د وزارت دي منبع وویل چې دا لابراتوار چې په کمپیوټري سیستم سمبال دي کولي شي چې حتي په یوه ثانیه کي نقلي او جعلي درملونه معلوم کړي ، ددي ماشینونو په فعالیدلو سره د جعلي درملو مخنیوي اسانه شویدي.

د امریکا د استخباراتو سیما ...

دي سیما په قومي سلامتیا کومه اغیزه نه ده کړي او دوي دا کار له یو محتاطانه سروي نه وروسته کړیدي.

په همدي وخت کي د امریکا د سیاستداناتو د فدراسیون نماینده سټیبوافیر ګډ ویلي دي چې دي به ، ۱۹۹۹ م کال لپاره د استخباراتو اداري ته د کلنټن له حکومت څخه تخصیص او بودجه وغواړي.

باید وویل شي چې نړیوالو مطبوعاتو د پوړرو او نورو نشه اي موادو په کار و بار کي د سي اي اي د ککړتیا خبرونه هم خپاره کړیدي.

پیام عالیقدر امیر ...

اسلامي محاکمه میشود زیرا این عمل آنها طور اشکار دور از موازین و اخلاق اسلامي مي باشد.

کسانیکه این عمل را مرتکب میگردند مخالف امارت اسلامي افغانستان بوده که در بین ما جا گرفته است. بر خورد نیك و درست با اسراي جنګي وجیبه اسلامي ماست .

و من الله التوفیق

زدوخوردهاي خونین ...

شریف به ادامه جنګهاي چند روز قبلي میباشد که بین ملیشه هاي دوستمي و ملیشه هاي وحدت در آن شهر بوقوع پیوست .

بتعقیب جنګهاي قبلي ده ها هزار تن از اهالي مزار شریف در یك اعتراض علیه ملیشه ها دست به قیام زدند که شاملین آن تظاهرات بامرمي هاي تفنګداران ملیشه ها روبرو ګردیده و تعدادي از هموطنان صلح دوست ما در آن شهر بشهادت رسیدند.

د برطانیې حکومت د طلاق ...

په خبر کي ویل شویدي چې په برطانیه کي د ویجاړ کورني نظام د لندن لوړ رتبه مقامات له سختي اندیښني سره مخ کړیدي او تیر کال یې ددي کار د سمون او رغوني لپاره بیلا بیل ګروپونه ټاکلي وو چې هغوي هم په دي هکله بیلابیل تجویزونه او پروګرامونه په کار اچولي دي چې له دي تجویزونو څخه یو هم د واده کوونکو دواړو خواو سره مالي مرسته ده .

په نړۍ کي هر کال دوه ...

آبرو د توبولو له مخي حمل اخلي.

په خبر کي ویل شویدي چې په کومو هیوادو نو کي چې د حمل غورځولو ته په قانون کي اجازه نه ده ورکړل شوي هلته د حمل غورځولو پیښي لږي تر سترګو کیږي.

باید وویل شي چې د هند، ترکیي، نیورلینډ، تونس او کانادا په اساسي قانون کي د حمل غورځولو ته اجازه شویده . هند براځني هیواد دي چې حمل غورځولو ته په کي اجازه شته او بیا هم د نورو هیوادونو په پرتله په کي ښځي ډیري وژل کیږي چې لامل یې ناپوهي او د ناکاره وسایلو استعمال ښودل شویدي.

په هند کي څلور سوه ...

زر سیمه کي جنسي کاژو بار ښه وده کړیده .

په راپور کي ویل شویدي چې په مرکزي دهلي کي په جنسي کاروبار کي د لتاړو ښځو په سلو کي اتیا کم عمره نجوني تشکیلوي .

په راپور کي ویل شویدي چې د بداخلاقي ډګر ته ددي کوچنیو انجونو د راوتلو سبب د دوي هغه میندي دي چې هغوي هم د خلکو لخوا تښتول شوي وي او د پیسو ګټلو لپاره یې استعمالولي په خبر کي ویل شویدي چې اوس په هند کي دلسو زرو روپیو په بدل کي انجوني موندل کیږي راپور زیاتوي چې په هند کي جنسي کاروبار د پنځو میلونو ډالرو صنعت دي .

یادونه

شتایي ستاسو ایمان به اجازه ورنکړي چې دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلنۍ
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300

د شریعت تبصره

قیام حماسه آفرین مردم مزار شریف نابودي قریب الوقوع ملیشه ها را نوید میدهد

قیام قهرمانانه اهالي مسلمان شهر مزار شریف بر ضد ملیشه هاي مفسد و شرارت پیشه نشان داد که همه مردم افغانستان به شمول اقوام و قبایل سران ملیشه هاي مزدور، از موجودیت ملیشه ها و تفنګداران بي فرهنګ ائتلاف شمال نفرت داشته و موجودیت آنها را عامل اصلي جنګ، بي امنیتي و همه بدبختي هاي جاري کشور مي دانند . ګروه هاي شامل در ائتلاف شمال همواره ادعا داشتند که تنظیم هاو دارو دسته هاي آنها از خواسته هاي اقوام و قبایل مستقر در سمت شمال افغانستان نمایندګي نموده و خواهان حقوق آنها در آینده سیاسي کشور مي باشند این ادعاي کاذبانه عمال اجنبي را حتي باداران خارجي آنها و بعضي از حلقات خود غرض جهاني نیز زمزمه میکردند که ګویا مردم افغانستان مجموعه از اقوام و قبایل مختلفه بوده همه اقوام وقبایل مسکون در این کشور در رابطه به مسایل ملي و بین المللي کشور خود صاحب حق و امتیازاتي میباشند و ائتلاف شمال به نمایندګي از اقوام مستقر در آن مناطق در صحنه سیاسي افغانستان عرض اندام نموده و حقدار اشتراك در همه موارد و محافل تعین سرنوشت مردم افغانستان مي باشند مردم مجاهد و شهید پرور شهر مزار شریف که سابقه پر افتخار اسلام و وطن دوستي داشته و در تاریخ مجاهدت هاي ملت مومن ما بر ضد کمونیزم جهاني و نوکران شان مقام خاصي را صاحب هستند از قبل ها به این موضوع پي برده و درك کرده بودند که از شهادت ها و زحمات طولاني آنها ګروهك هاي مزدور و تحت الحمایه کمونیزم و غیره دشمنان افغانستان استفاده سو نموده و از این طریق بر افتخارات آنها توده هاي خاك انباشته و دشمنان اسلام و افغانستان خرسند و خوشنود ساخته مي شوند تجاوزات شبانروزي ملیشه هاي مفسد بر سر مال و نوامیس مردم صفحات شمال تا حدود وحشیانه و غیر قابل قبول آن رسیده بناءً کاسه صبر مردم لبریز شده و تصمیم ګرفتند تا به ملت مومن خود و جهانیان ابراز دارند که مردم صفحات شمال افغانستان وارثین جهاد اسلامي افغانستان در شمال کشور بوده، بقایاي کمونیزم و نوکران شرارت پیشه روسیه، ایران و هند را دشمنان هویت اسلامي و ملي افغانستان و عاملین اصلي همه مصایب و کشمکش هاي جاري در کشور پنداشته و علناً به همه جهانیان تفهیم نمایند که ګروهك هاي باغي نماینده ګان آنها نبوده، در هیچ محفل و یا مجلسي از مردم مسلمان شمال کشور نمایندګي کرده نتوانسته و موجودیت همین ګرو هاي تفنګدار به سر ،مال و ناموس مردم خطرات متداوم متوجه ساخته و راه حل همه مشکلات کشور و ایجاد صلح و آرامش در صفحات شمال به بیرون راندن تفنګداران وحشي ائتلاف شمال از کشور مربوط مي باشد. قیام صلح جویانه و ازادي خواهانه مردم متدین مزار شریف نقاب هاي کاذب مردمي بودن ګروه هاي مزدور را از روي شان به دور انداخته و اشتراك همه مردم مزار شریف اعم از علما ، دانشمندان، مامورین ، محصلین و طلبه هاي اقوام پشتون ، تاجك، ازبك، ترکمن و هزاره مزار شریف به خوبي روشن ساخت که ملیشه ها نماینده ګان هیچ قوم و یا قبیله اي از افغانستان نبوده و نظر به سوابق و اعمال غیر انساني بیشرمانه شان هیچ نوع حیثیت یا مرتبه اي در انظار مردم افغانستان صاحب نمي باشند مردم شهید پرور مزار شریف در قیام دلیرانه اخیر خویش با سپر ساختن سینه هاي پاك شان در مقابل فیر هاي وحشیانه تفنګداران وحشي ملیشه ها یکبار دیګر تاریخ زرین آزادیخواهي و اسلام دوستي شان را زرینتر ساخته و به نوکران روسیه، ایران و هند نشان دادند که مردم خداپرست مزار شریف همچو سابق به خاطر حفظ استقلال ، تمامیت ارضي، حاکمیت دیني و ملي و بمنظور دفاع از سر، مال و ناموس شان در مقابل هر متجاوز، ظالم و اجنبي پرست مردانه وار قیام کرده و در این راه شهادت را از افتخارات و آرزو هاي قلبي شان محسوب میدارند.

اګر چه نظر به وحشت هاي بیمثال تفنګداران باغیان و حیله سازي هاي سردمداران بعضي از ګروه هاي ائتلاف شمال، قیام مردم براي مدت موقتي فرونشسته و سران ګروه ها به مردم وعده سپرده اند که در اسرع وقت تا حدود بیست کیلو متري شهر تفنګداران شان را به عقب خواهند کشید و مردم نیز غرض نابودي مرحله وار ملیشه ها فعلاً خاموش شده اند اما با در نظر داشت وقایع اخیر و چګونګي قیام مردم مزار شریف، سردمداران ګروه هاي باغي باید درك کنند که همه مردم حتي اقوام خود آنها از اوشان نفرت داشته و دیګر نمیتوانند تا حاکمیت ظالمانه شانرا در مناطق شمال کشور ادامه دهند بهتر خواهد بود تا سران و قوماندانان ملیشه ها موقعیت شانرا در انظار مردم کشور درك کرده قبل از اینکه به رسوایي هاي بیشتر روبرو ګردند از لجاجت و باغیګري دست کشیده و ګریبان شانرا از پنجه هاي قهر آمیز ملت مجاهد افغان برهانند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press